مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲/۱۰/۱۴

# جګړه؛ پردیو ته د نفوذ فرصت او افغانانو ته د بقا اندېښنه

افغانان له اوږدو، ځپونکو او ویجاړوونکو جګړو څخه وروسته تر هر څه زیات ثبات، د زده کړو د ګراف لوړوالي، اقتصادي وده او ملي یووالی غواړي. د دغو موخو ترلاسه کول په کور د ننه ثبات، وخت سرچینو، کادرونو، ښه حکومتولي او اوږدمهاله مبارزې ته اړتیا لري. که هېواد مو یو ځل بیا د پردیو په لمسون او ملاتړ په کورنۍ جګړه کې لتاړ شي، ممکن افغان ولس ته د خپلې بقا په بیه تمام شي او اوږدمهاله پایلې به یې یوازې د واک پر سر د افغان ډلو شخړه او د افغانستان په پولو کې محدود نه پاتې کیږي.

د افغانستان جغرافیایي موقعیت او د سیمې له جیوپولیتیکي معادلو سره تړاو به دغه جګړه د سیمه ییزې سیالي برخه وګرزوي. د کورنۍ جګړې ننګوني یوازې په دغه چوکاټ کې نشو راټولولای چې ځوک به واک ګټي. مهمه پوښتنه دا ده چې ایا د تیرو کورنیو جګړو ترخه یادونه به ځانګړي ډول د کابل کنډواله کیدل د افغانانو هېر شول او ایا افغانستان به له داسې جګړې وروسته متحد، خپلواک، او د پریکړو کولو وړ هېواد پاتې شي؟

کورنۍ جګړه هغه مهال په ملي بحران بانډي بدلیږي چې نظام د خپلو جغرافیایي پولو ساتلو، عدالت او عامه نظم د رامنځته کولو وړتیا له لاسه ورکړي او اړونده خواوې د واک ساتلو یا د واک په ترلاسه کولو بانډي تکیه وکړي. په دغه حالت کې هر اړخ د خپل ځواک په زیاتولو بانډي پانګونه کوي، خو د یوه لوري لخوا د ځواک د زیاتولو هڅه د بل اړخ لپاره ګواښ ګڼل کیږي. د متقابلې وېرې دغه تسلسل جګړه اوږدوي او د سیاسي حل مخه نیسي. کله چې جګړه واک ته د رسیدو لپاره وسیله شي، د سولې بیه هم لوړیږي او مهمه دا چې د نیابتي جګړو رنګ خپلوي او د پردیو لپاره د نفوذ ساحه پراخه کیږي.

بهرنۍ استخباراتي شبکې د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره په افغانستان کې د هیڅ اړخ قاطع ملاتړ نه کوي بلکې یوازې ګډوډي رامنځته کوي او د همدغو کورنیو رقابتونو له ادرس څخه خپل نفوذ پیاوړی کوي. هغوی اړتیا نه لري چې افغانستان په مستقیم ډول اشغال یا کنټرول کړي؛ له افغان خواوو سره د مالي، سیاسي، استخباراتي یا امنیتي اړیکو جوړول هغوی ته داسې فرصتونه ورکوي چې د جګړې رنګ او نیرنګ بدل کړي. په دغه شان وضعیت کې د پردیو ګټو لپاره افغانان په خپل هېواد کې دننه جنګیږي، خو د جګړې جاري ساتلو لپاره څېنې اړتیاوې له بهر څخه پوره کیږي . تر ټولو لوی زیان یې داده چې د افغانستان د سیاسي پرېکړو خپلواکي په تدریجي ډول د بهرنیو محاسبو او د نیابتي معادلو له اغیزو لاندې راځي.

د سیمې هېوادونه د افغانستان په هکله بېلابېلې امنیتي او ستراتیژیکې محاسبې لري. پاکستان له عسکري لیډلورې څخه له افغانستان سره دښمنانه تعامل کوي؛ هند د پاکستان لیدلوری له خپل سیمه‌ییز حضور سره پرتله کوي؛ ایران د کډوالې، اوبو، د پولو د امنیت او اقتصادي لارو مسئلې لري؛ روسیه او د منځنۍ اسیا هېوادونه د افراطیت او د پولو د بې‌ثباتي خطر ته ګوري. له همدې امله د افغانستان بحران کولای شي هر اړخ ته د نفوذ لپاره فرصت برابر کړي، خو په عین وخت کې د هغوی امنیت ته هم ګواښونه رامنځته کیدای شي.

د کورنۍ جګړې اوږدمهاله زیان د جګړې له ختمېدو وروسته څرګندیږي. جګړه تولیدي اقتصاد له منځه وړي، پانګه او مسلکي کادرونه بهر ته وزي، د دولت عواید کمېږي، اوږدمهاله بې ثباتي رامنځته کیږي، تولنیز درزونه پیاوړي او ملي یووالی زیانمن کیږي. کله چې خلک د سمت، توکم یا سیاسي تړاو له مخې یو بل ته د دښمن په سترګه وګوري، د جګړې پای په اتوماتیک ډول ټولنه بیرته له یو بل سره یوځای کیدو ته نه پریږدي. د سړکونو او ودانیو بیا جوړول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ممکن په پرتله ییز ډول اسانه وي، خو د پرګنو ترمنځ له منځه تللی باور بیا په اسانه توګه نه رامنځته کېږي او دا داسې اوږمهاله بهیر دی چې بهرنیان پکې مرسته نه بلکې خنډونه اچوي.

هر څومره چې کورني اداري بنسټونه کمزوري، سیاسي مشارکت محدود، عدالت کمزوری او د خلکو مشروع شکایتونه بېځوابه پاتې کېږي، د بهرني نفوذ لپاره امکانات برابرېږي. بناً د جګړې د مخنیوي بنسټیزه وسیله د نظام او ټولنې ترمنځ د اعتماد بیا جوړول دي. په نظام کې د سمون او بدلون هڅې باید داسې وي چې خلکو ته پکې د مخالفت، سیاسي مشارکت او د حقونو د غوښتلو لپاره سوله ییزې لارې شتون ولري. پیاوړې کورنۍ مشروعیت د بهرنیو لاسوهنو پر وړاندې تر ټولو مهم دفاعي دیوال دی.

د سمون او بدلون د هڅو او جګړو ترمنځ باید کرښه روښانه وساتل شي. د حکومتولې پر نیمګړتیاوو نیوکه، ولسي غوښتنې د عدالت او شفافیت غوښتنه، د سیاسي او ټولنیزو اصلاحاتو غوښتنه د جګړې معنی نه لري او د دښمنې په کتګورۍ کې نه راځي. افغانان باید د نظام د نسکورولو لاره نه، بلکې په نظام کې د سمون او بدلون لاره غوره کړي. داسې لاره چې له ستونځو څخه د انکار پر ځای د ستونځو د حل لپاره سیاسي او سوله‌ییزه تګلاره رامنځته کړي.
افغانان کولای شي د افغانستان له جغرافیایي موقعیت څخه د ګټه اخیستنې له مخې خپل هیواد په سیمه ییزه او نړیواله ټولنه باندې له بار څخه په اقتصادي فرصت بدل کړي. د جنوبي او مرکزي اسیا ترمنځ موقعیت، ترانزیتي لارې، انرژي او سیمه‌ییز اتصال هغه فرصتونه دي چې یوازې د افغانستان په ثبات کې ارزښت پیدا کوي. که افغانستان له ثبات څخه برخمن وي، ګاونډیان د سوداګرۍ او اتصال لپاره ورسره سیالي کوي؛ که بې‌ثباته وي، همدغه جغرافیه د قاچاق، وسلوالو شبکو د تګ راتګ، امنیتي رقابتونو او نیابتي جګړو لپاره اسانتیاوې برابروي. د افغانستان ثبات د افغانانو تر څنګ د سیمې اقتصادي او امنیتي اړتیا هم ده.

افغان ولس له جګړو څخه ستړی دی. هغوی په خپل هیواد کې د بلې کورنۍ جګړې، د واک په سر د نښتو او د بهرنیو ستراتیژیکو محاسبو لپاره د قرباني کېدو پر ځای عادي ژوند غواړي: امنیت، کار، زده کړو ته لاسرسی، سوداګري او د خپلو کورنیو لپاره د روښانه راتلونکې ډاډ غواړي. بناً د افغانانو لپاره انتخاب نه جګړه او نه هم انزوا ده، بلکې انتخاب دادی چې له نړۍ سره تعامل ولرو او په خپله خاوره کې مو جګړه نه وي؛ له ګاونډیانو سره اړیکې ولرو، خو خپلو پریکړو کې خپلواکي له لاسه ور نکړو؛ اصلاحاتو ته تسلسل ورکړو، خو هېواد د ویجاړې لورې ته بیا تلل په هیڅ ډول د منلو وړ غوراوی نه دی. د هېواد تر ټولوستره ستراتیژیکه اړتیا دا ده چې د نورو لپاره د سیالیو ډګر نه، بلکې د خپلو خلکو د سولې، ثبات، د سمون او بدلون په بهیر کې د تسلسل او اقتصادي پرمختګونو کور وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ